## داوطلبۍ ته بلنه

## داخلي پرانيستې داوطلبي

**پروژه: د افغانستان بانک د وسایطو، جنراتور او مرکز گرمی لپاره د دوه ډوله تیلو (ډیزل او پطرول) چمتو  او تدارک  کول**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1400-1/NCB/G08**

۱. د افغانستان بانک رياست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شويو وجوهو يوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400-1/NCB/G08** داخلي پرانيستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمريت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرايطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **يو کال }** ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستې میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستې ده.

۵. په شرايطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (hezbullah.niazy@dab.gov.af) برېښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه بايد لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې  1400/12/22 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه بايد د آفر د تضمين د لانديني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين

**۸. د آفر د تضمين مبلغ  -370,800/ دری سوه او اویا زره او اته سوه افغانۍ**

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. يعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1400/12/22 څخه تر ۱۱۸ورځو پورې يا د تمديد شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

يادښت: د آفر د تضمين (بانکي تضمين) بايد په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او يا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرايط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنيکي ظرفيت: داوطلب بايد هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنيکي ظرفيت د لاندې معيارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.

2- د تېر . و پنځو کلونو په اوږدو کی يکلې . ، راکړې ورکړې حجم -18,540,000/ اتلس ميليونه او پنځه سوه او څلويښت زره افغانۍ.

3- داوطلبان بايد د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چی په تيرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (يو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. يوه ورته پروژه لږ تر لږه -11,124,000/ يوولس ميليونه او يو سل او څلورويشت زره افغانۍ يا دوه ورته پروژی لږ تر لږه -18,540,000/ اتلس ميليونه او پنځه سوه او څلويښت زره افغانۍ.**په تيرو لسو کلونو کی.**

د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې **تووليز ارزښت (:/*4,635,000*- څلور ميليونه او شپږ سوه او پنځه ديرش زره افغانۍ)**

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسليمی د وروستی نيټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کيږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړيکو شميره: 202106692 (0) 93+

برېښناليک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af